4/1968

کندهار

(۱)

کندهار

ددې ګڼې مضامین

سرمقاله	۱ مخ
زوړ کندهار	۲ «
ځوان نسل	۵ «
پرداستان لیکنه...	۶ «
پر ادبیاتو...	۸ «
دافغانستان...	۹ «
صنعتی انقلاب	۱۲ «
[illegible]ب وږمې	۱۴ «
[illegible]رغون خان	۱۸ «
دبمبئی دتیاتر..	۲۰ «
شګوفه	۲۲ «
جیوردانو برونو	۲۳ «
له هریخوا	۲۶ «
دخندا پلوشی	۲۷ «

دکندهار دعمرانی فعالت په لړکی دظاهرشاهی واټ په لومړی برخه کی
دښاروالی عصری نه ی ودانی شوی مغازې لیدل کیږی

۱۳۴۷

مات لوښی

ای محبوبی!
تاچی دګلانو لوښی ته لاس وروړ.
پدې لوښی کی نری درز څرګند شو....
اما هو، داسی ښکاره کېده لکه تاچی هیڅ لاس نه وی وروړی.

ځکه چی له دې درز څخه دلوښی هیڅ ازانګه نه پورته کېده.
مګر دې نری درز ورځ په ورځ؛ سو که، سو که پټ تګ کاوه خو څه مهال وروسته پر لوښی شاوخوا راوګرزېدی او څك، څك او به ځینی بهېدی.

دې ګل هم او به وز بېښلی څو وچی شوې....
او هیڅوك نه په پوهېدل؛ آه، لاس مه ور وړه دا مات لوښی دی.

په دا لوښی نه دی، زما خـوږمن زړه دی؛ چی زرې، زرې چاودلی دی او ستا دمحبت ګل پکښی شین دی.
خلك نه پوهیږی چی دا څنګه ...؟

مګر دا ګل زما دزړه په اوبو وده کوی زما دزړه درزونه زما مات زړه پټ، پټ ژړوی نو ګرانی محبوبی لاس مه ور وړه دا مات زړه دی.

LIBRARY OF CONGRESS
ISLAMABAD OFFICE
18 MAR 2005
6 CONTINUATION 6

کندهار

د ۱۳۴۷ لمریز کال د حمل میاشت

بزګر او مالداره

وروره !

اوس چې د طبعي ناموس له دود او دستور له حکم سره سم ددې خاورنی کرۍ یعنی مځکی د بوډا تاریخ په پاڼو باندی یوه بله ورقه زیاته سوه او د ۴۷ کال په راتلو سره

د نړۍ د عمر یو بل کال شروع سو، دا موږ ته په الهام سره راښیي چې د طبیعت له تحول سره سم د بشري ژوند په سیر کی هم د نوی بدلون او تغیر شرایط لازمی او حتمی دی.

ګرانه بزګره او زړه ته تېره مالداره! ته چې د هری ټولنی د تولید پیاوړی عامل او لوی عنصر یی په تېره بیا د افغانی ټولنی اقتصادی بنیه چې ستا په همتنا که بازو

باندی ولاړده او ته د دغی سیمی په ټولنه کی د اقتصادی هیرو او پهلوان موقف لری یوازی ستا د مړوند او لېچو برکت دی چې د هیواد درماندې او پسماندې تر سره کولای شی.

اوس چې هم طبیعت او هم اقلیم ستا د کار او زیار د پاره د

کال تر نورو موسمو زیات مساعد او آماده دی د موقع څخه په استفاده سره د نوی کال په شروع کی د خپل یو کلن پلان په عملی

کولو او تطبیق هم شروع وکړی او دغه طلائی موقع چې په ضایع کېدو سره ئې بیا تلافی ممکن نده د هری دقیقی څخه اعظمی استفاده وکی.

بزګره وروره! د تېر کال د په لاس راغلو تجربو سره یو ځای پدې نوی کال کی نه یوازی دا چې ستا د سږ کال د کار او فعالیت حجم

باید زیات وی بلکی ستا د کار سیستم او له طبیعت څخه د استفادې په باب طرز تفکر هم ور سره بدل شی یعنی د یوې خوا په کار کی

د نوی زراعتی آلاتو او لوازمو څخه کار واخلی او د هغه د استعمال او ګټو سره ځان اشنا کړی او دیلی خوا څخه د انفرادی فعالیت څخه واجتماعی حرکت ته میلان پیدا کی او د کوپراتیفونو او زراعتی اتحادیو په منځ ته راوړلو باندی د خپل کار په نظام کی نوی جنبش راولی څو هم مو تولیدی قوت زیات شی او هم مو د استهلاک په بازارو کی تولیدی مواد په مستقیم ډول عرضه سی که پدغه روحیه تاسو

پیغام

انتقاد، ستاسو د عظمت اثبات کوی

که خلک بی موجبه پر تاسو انتقاد وکړی مه خوابدی کیږی ولی چې انتقاد هغه مبارکی او تعریف دی چې په مخالفه لهجه تاسو ته ویل کیږی خو که چیری انتقاد پر حق او واقعی وی نو په هغه صورت کی منعقد دیوه دوست په حیث تاسی و خپلو نواقصو ته متوجه کړی یاست او د دې پر ځای چې پر ځان ئې بده ولګوی دا به ډېره ښه وی چې تر ممکنه حده د هغه په اصلاح پسی وګرځی.

نوی کال استقبال کړی واقعاً نو تاسو په نوی کال کی د موقع څخه په استفاده سره د ژوند دوجایبو او مسئولیتو د ادا کولو ادراک کړیدی او د زمانی سیر او جریان چې آناً په آناً تحول کی دی په صحیح توګه به مو تعقیب کړی وی او شاید لدغه نه درېدونکی کاروان سره سم قدم واخلی په پای کی نوی کال تاسو ټولو بزګرو او مالدارو ورونو او د افغانستان نجیب ملت ته د زړه له کومی تبریک وایم او پدغه کال کی د دوی نېکمرغی او د ګران هیواد د ابادۍ او لوړتیا هیله کوم.

ښاغلی دانشمند د طلوع افغان مدیر صاحب !
ستاسی را استولی د کندهار مجلی ګڼی ما ته رارسېدلی وې. که دغه مجله ژوندی پاته سی، غنیمت ده.
د دې لیك سره یو تاریخی مضمون «زوړ کندهار» در واستول سو، چی په هغه مجله کی نشر کیږ. په احترام
پوهاند عبدالحی «حبیبی»
د تاریخ ټولنی رئیس

کندهار: ځان سرلوړی او پیاوړی ګڼی چی دهیواد دلویو پوهانو او محققینو توجه ئې ځانته جلب کړېده. د ښاغلی پوهاند «حبیبی» مقاله چی ددوی له خوا د نشر له پاره په خاص ډول د کندهار مجلی ته وقف سوېده په ډېره مینه ئې خپلو لوستونکو ته وړاندی کوی.

زوړ کندهار

د کندهار سیمی خورا زوړ تاریخ لری، دلته د هلمند او ارغنداو او ترنك درې زراعتی سیمی ځنګ پر ځنګ پرتی دی، او تر تاریخ دمخه لا هم دغه اورشووی دانسانانو دلومړنی مدنیت په لحاظ مساعدی وې، لکه چی د شپږزرو کالو څخه یوه ډله کوچی انسانان په دغو اورشوو کی اوسېدل، او د دوی د مدنیت مختلف مظاهر ددېمراسی او مونډی-ګك له غونډیو څخه راوتلی دی. او که نوری تاریخی پلټنی وسی، ښائی په دغو سیمو کی نور تر تاریخ دمخه آثار هم پیداسی. ځکه چی ددغی سیمی جغرافی وضعیت داو بو او مځکی او اورشووو په سبب داسی دی چی د لومړنیو انسانانو لپاره د اقتصادی ګټو ځای کېدای سوای ښائی چی بېله ارغنداو، ترنك او هلمنده ځنی نور کوچنی رودونه هم په دغو سیمو کی بهېدل، چی اوس وچ سویدی، او د تاریخ پوهان وایی: چی د کشك نخود اوسنی وچه شپله پخوا یو لوی رود ؤ چی دغه دښتونه ئې او بول، او د لومړنیو انسانانو لپاره چی په مونډی ګك کی اوسېدل، ښه اود ګټی وړ اورشو وه.

داسی ښکاری چی تر میلاد زر کاله پخوا کله چی آریایی خلك افغانستان ته راغلل، نو دوی دافغانستان شمالی او جنوبی سیمی ونیولی، او په هغو کی د اراکوزی لویه وادی هم وه چی اوس دغه دارغنداو او کندهار مځکه ده.

تر میلاد دمخه ۳۳۰ کال ؤ چی مقدونی اسکندر دمرات اوسیستان له خوادا راکوزی سیمه هم ونیوله او یو ښار ئې دلته د اراکوزی د اسکندریی په نامه جوړ کی چی ښائی دغه زوړ کندهار به وی. او ددې ښار په وجه

تسمیه کی دوه روایته موجود دی :

اول داچی، دا نوم به د کندوفارس له نامه څخه راوتلی وی ، چی دغه د پهلوا دخاندان پادشاه د میلاد په لومړی پېړی کی له سیستانه تر تکسیلا پوری

مسلط ؤ، او د کندهار او سنی سیمه هم دده د سلطنت مرکزی مځکه وه.

دوهمه نظریه، مستر بیلو انگریزی پوهاند ښکاره کړېده، چی په ۱۸۷۲م کال په کندهار کی ؤ، دی د خپل کتاب Racis of Afghanistan په ۲۲مخ کی وایی:

د پنځمی پېړی په پای یا د شپږمی پېړی په شروع کی هغه ګندار یوې قبایل چی هیرودوت هم د افغانستان په شرقی سیمو کی یاد کړیدی، د هپتالی قبیلو

د فشار په سبب د ارغنداو سیمو ته راولېږد ېدل ، او خپل نوم ئې دغه ښار ته ورکی، دغه واقعه تر ۵۲۰م وروسته واقع سوېده، ولی

چی پدغه کال چینی زایر- سنګم-یان د بودا کشکول د پېښور په لوی معبد کی لیدلی ؤ، او وروسته نو دغو کندهار یا نو کشکول کندهار

ته یووی، چی تر ۱۳۰۶ش پوری دزاړه ښار د سلطان ویس په مزار کی پروت ؤ، او اوس د کابل په موزیم کی دی .

د کندهار نوم په اوومه میلادی پېړی کی هم ؤ، او کله چی اسلامی عربی فاتحان د هجرت د لومړی پېړی په اوله برخه کی د سیستان او بست له خوا دلته راورسېدل

نو د البلاذری عربی مورخ په قول دوی کندهار ونیوی، او د دې ځای د خلکو خولی او بده تېشونه ؤ

چی دغه راز خولی د استقلال تر جنګه پوری لاهم په کندهار کی رواج وې، او تېش ئې بللی .

دا د تعجب ځای دی، چی د اسلامی دورې په دوهمه، دریمه او څلرمه پېړی کی بیا د عربو او عجمو مؤرخان د کند هار نوم پدغه ځای کی نه یادوی، او پر ځای ئې رخج، کوهك، پنجوایی

او تکین آباد بولی ، دغزنو- یانو په عصر کی دلته فقط د تکین آباد ښار یاد یږی ، او وروسته نو تر ۶۰۰ھ وروسته ګوروچی بیا دلته د کندهار نوم پیدا کیږی، او د تکین آباد نوم بېخی ورکیږی.

رخذ یا رخج خود عربو په اصطلاح د دغی ګردی سیمی نوم ؤ چی مرکز ئې پنجوایی تر اوسه هم سته، د کوهك نوم هم تر اوسه ژوندی دی.

زه داسی ګمان کوم چی د آلپ تکین یا سبکتکین په وختو کی به د کندهار نوم رسماً په تکین آباد بدل سوی وې. او د انوم ترهغه وخته ژوندی ؤ ، څو د سبکتکین د اولادو شاهی په غزنی کی وه . مګر د دې

دزاړه کندهار د نارنج د قصر بقایا

حدس لپاره تر اوسه کوم تاریخی سند نه لـرو . خو
په اوومه هجری سدۍ کی منهاج سراج جوز جانی د
طبقات ناصری مؤلف کورټ د کندهار نوم نه اخلی او
دلته فقط تکینا باد پېژنی اودا هغه وخت دی، چی د
۶۲۰ھ پـه حـدودو کی د چنګیز یانو حملی پـر دې
مځکه جاری دی .

مګر لږ وروسته د ۶۸۰ھ په حدودو کی سیفی هروی
د تاریخ هرات لیکوال بیا دلته د تکین آباد نوم بېل
اخلی ، اود کندهار حصار بېل ګڼی ، نو داسی ښکاری
چی تکین آباد تـر اوسنی کندهار لږ څه غربی خواته
داوسنی ګرماو او نهرسراج په سیمو کی واقع ؤ، او پر
دغه مطلب باندی ما خپل ټول تاریخی دلایل پخوا د
آریانا په مجله کی لیکلی دی .

په هر صورت د تکین آباد نوم تر ۷۰۰ھ وروسته کورټ
ورک سوی دی او کله چی امیر تیمور دغه مځکی نیسی ، نو په
۷۸۵ھ کال امیر حاجی سیف الدین د کندهار فتح ته ځی
اوددی ځای حکومت امیر سیفل کندهاری تـه سپارل
کیږی ، چی دغه مطلب هـم د مجمل فصیحی لیکوال ضبط
کړی دی ، او بیا د شرف الدین یزدی لـه ظفر نامی څخه

ښکاری ، چی د ۸۰۰ھ په حدودو کی کندهار په دغه نامه
د امیر تیمور په فتح کړو بلادو کی شامل دی ، اودغه
امیر سیفل کندهاری هم دهند پـه فتح کی له هغه امیره
سره ملګری دی .

د هرات د تیموریانو په عصر کی کندهار د دوی د لوی
مملکت یو طبیعی جزوؤ ، د ۸۲۰ھ په حدود کی میرزا شاهرخ
او بیا وروسته سلطان حسین بای قرا د غه ښار یو د شهزاده ته
وسپاره ، او په مطلع عدین او روضته الصفا او حبیب السیر

او ددغی دوری په نورو تاریخونو کی د هرات د تیموریانو
د لوی مملکت یـو معتبر ښار دغـه زوړ کندهار
ګڼل کیدی .

د ۹۰۰ھ پـه حدود کی د هرات د تیموریانو کورنی
ضعیفه سوه د شمال له خواشیبانی خان اوزبك او د غرب له
خوا صفویانو پر دوی حمله وکړه ، او پـه دغه وخت کی

د امیر ذ الفـون ارغون زامـن
شاه بیګ او محمد مقیم چی د
هرات د تیموری دربار امراء وو ، له
فـراه څخه تر کندهاره اودرهٔ
بولانه مسلط سول ، مګر دوی لـه
یوی خوا له شیبانی خان او د کابل
له خوا څخه د بابر سره مقابل وو
خوچی به آخر کی په ۹۱۳ھ بابر
کندهار هم ونیوی ، او پسله دی
دغه ښار کله د بابر او د ده د اولادو

په لاس کی وو ، او کله به د
صفویانو لښکر راتلل او دغه ښار
به ئې نیوی . مګر حقیقی اختیار
او واك ئې د کلات دغلجو یـا د
ارغسان او هـرات د ابدا لیـو
حکمرانانو په لاس کی ؤ .

د بابر کورنۍ حکمرانی له
۹۱۰ تر ۱۰۵۹ھ پوری پر کندهار
باندی په دغه ډول جاری وه ، چی
کله به د هند تیموریان غالب وو
او کله به صفویان یوازی په دی

کلاکی ناست وو ، او فقط لاری
به ئې ساتلی ، او د اطرافو پښتانه
به د دوی له اثره آزاد وو ، مګر
په ۱۰۵۹ھ کال چی د ښار صفویانو
وینوی ، نو د حاجی مهرویس خان

هوتك تر نهضته ۱۱۱۹ھ پـوری
د دی ښار ټینګه کلا د صفوی
لښکرو پناه ګاه وه ، او په همدغه
کال میر ویس خان د پردو لـه
تسلطه آزاده کړه .

په دغه وخت کی د زاهد

کندهار جغرافي وضع داسي وه، چي دغره په شرقي لمن کي پروت ؤ او دغه غرۍ کوه لکه يا قيتول باله

پرغره لوړه د ارګ کلاوه چي د چهل زيني څخه تر لخشکه پوري دښار طول ؤ ابوالفضل وايي چي کندهار

دوې کلاوي درلودې، چي پسور ئې ۶۰ ګزه ؤ، او دورادورئې خندق هم درلود دنارنج مرکزي قصر د شاه

او حاکم مسکن ؤ، مير معصوم وايي: چي دقيتول پر غره باندي پخوا يوه آتشکده آباده وه، اودښار

کلا دغه دروازې درلودې: د چهل زيني پر لوري شمالي خواته ګندیکان او شيخ-ولي دروازې وې. دجنوب

خواته دماشوردروازه، او شرقي خواته دروازهٔ نو او

دروازهٔ خضري وه، او د قيتول پرخوا د علي قابي دروازه وه.

نواب صمصام الدوله په مآثرالامراء کي دښار پرشرقي خوا يوه بله دروازه.

د ويس قرن پنامه هم يادوي چي دغه مزار تراوسه هم د سلطان ويس پنامه د زاړه ښار په شرقي لمنو کي

موجود دی.

د پادشاه نامي مؤلف ليکي: چي د شاه جهان په وختو کي د کندهار کلا ترميم سوه، او آته

لکه روپۍ پدې ترميم خرڅي سوې.

په اکبرنامه کي دابوالفضل له بيانه داسي ښکاري، چي تردې ښار دمخه يو بل زوړ ښار دماشور دروازې وخواته ؤ، اود نارنج

قصر ئې برج خچه (آقچه) هم باله او دا مانۍ د ارګ په کلاکي واقع وه، او په ښار کي دننه د غره په لمن کي يوه بله کلا هم

وه، چي په هغه کي به ئې اسلحي اينبوولي او جبه خانه وه.

ترچهل زيني لاندي چي کومه آرامي او يوناني نوشته پر يوه پرښه باندي پيدا سوېده، دا نوشته د اشوکا په امر ليکلي

سوېده، چي د ۲۳۰ ق،م حدود دی، نو داسي ښکاري چي زړه کندهار دغه دوه زره کاله پر دغه ځای آباد ؤ، او دا ښار په

۱۱۵۰ ه هغه وخت متروک او ورانسو، چي تر يوه کال محاصرې او مقابلي وروسته نادرشاه افشار ونيوی، اووران ئې کي.

دزاړه کندهار له سقوط او ورانۍ سره د هوتکو سلطنت هم سقوط وکړ، څوچي لوی

د ترکي ادبياتو څخه:
ژباړونکي [لاروی]

ځوان نسل

ای ځوانه نسله! سبا يعني د ترقي او پرمختګ ورځ به ستا وي...

هو! وروسته له نن څخه به هرشي په تا تعلق ولري.

ای دځواني مظهر؛ ای دفعاليت او فداکاريو نمونه

او ای دبشر دهيلو او آرزو-ګانو خندانه څهره! مګر داسي ندی؟

آيا ته دبشر دامید او تمنا ستر ګه نه ئې؟... نو ولي چوپ ناست يا ته ئې؟

پدې نړۍ کي د هيواد په پهناوره خاوره کي ديوه ځلانده ستوري په څېر راوخېژه او پر پرده چي هغه مخوفه او تياره ادوارو او هغه دجهل او ناپوهي ورځي ستا د روڼي ښي و مخي ته خاموشه سي.

باته په ۹ مخ کي

احمدشاه بابا په ۱۱۶۰ه کال بيا دافغان لوی سلطنت جوړ کي، اود کندهار دغه نوي ښار ئې لږ څه د زاړه ښار پر شرقي شمالي لوري ودان کړ.

لیکونکی م [عطائی]

پر داستان لیکنه یوه لنډه څیړنه

داستان څه شی دی؟

په لومړی سر کی داستان یو حکایت دی چی موږ ئی په پښتو نکل بولو ، یا کیسه ورته وایو.

باورلرم زموږ هر هلك او هری نجلۍ به په کوچنی-والی کی د انا یا مور څخه به التماس آمیزه ناز غوښتی وی چی نکل راته وکه!

داستان دغه نکل دی خو نکل تر نکل پوری توپیر لری. دانا نکل او د داستان ترمنځ دیوې ماجرا د حکایت په حیث څه توپیر نسته خو دلته توپیر موجود دی چی دانا نکل سره لګیږی نه یعنی د انا په نکل کی منطقی انسجام موجود نه دی او په داستان کی کیسه د عقل او منطق په حساب برابر د یو چا یوشی د حال بیان کوی.

یو محقق مقاله لیکونکی چی اوس ئی زما نوم هېر دی یو وخت لیکلی وه چی:
«تاریخ په کیسه او کیسه په تاریخ کی ده».

داهم د کیسی لپاره او هم د تاریخ لپاره ښه سره ترکیب سوی تعریف دی.

پرونی تاریخونه ټوله یو نکل دی چی د مشهودو شیانو څخه ږغیږی خو منطقی انسجام نه پکښی شامل کیږی خو دانا تر نکل یو څه را مترقی دی.

د دنیا په لاته وړمه ورځ کی

که موږ په تاریخی اصطلاح (قرون حاضره) نن (قرون جدیده) پرون (قرون وسطی) وړمه ورځ وبولو نو تر میلاد وړاندی لنډی پېړۍ چی د یونان او روم دوره په ځان کښېباسی د لاته وړمی ورځی نوم به ورته مناسب وی.

د دنیا پدغه لاته وړمه ورځ کی د هغو خلګو لیکلی سوی کیسی زموږ د تاریخ ابتدائی خاکه ده.

پلوتارك چی د قدیمی نړۍ یو معروف مؤرخ تېر سویدی ، کیسی ئی اکثره مبالغه آمیزه او په اغراق لړلی داستانونه دی.

داسړی د هغی ورځی په نړۍ کی چی ډېره محدوده وه یو څه ګرزېدلی دی خو د هغو ځایو حکایات چی کوی نو د حقایقو ساتنه چندان نه کوی.

د ده کمال دادی چی پوښتنی طرح کوی خو پداسی الفاظو چی د هر انسان د ذهن څخه ترمخه

د سردار محمد [ولی] ژباړه

آیا پوهیږی؟

انګور چی خورا خواږه او ګټوره مېوه ده څه وخت پیدا سوېده؟
دانګورو تاك په طبیعت کی د خورا پخوانیو نباتاتو څخه شمېرل کیږی. خلګ وایی چی: تقریباً د برونز د دورې څخه دانګورو تاکان په نړۍ کی ایښودل سوی دی. په زړه آسیا کی تقریباً ۳۰۰۰ کاله ق،م د مخه انسانانو دانګورو له تاکانو څخه مېوه خوړلی وه. د یونان څخه دانګورو د تاکانو روزنه وایطالیی، سیسلی جزیرې او توری بحیرې ته نقل سوېده. نن ورځ په نړۍ کی ۲۰۰۰ ډوله انګور پېژندل سوی دی..

موښتی وی. مثلا وایی: آیا دا د سپوږمۍ پر مخ ولی پزه او ستر ګی معلومیږی.

یا د مصر پر مځکو داسی عجایب او غرایب بیانوی چی منطق اود فکر د قناعت اصول ئې نن نسی منلای.

د داستان تطور د اجتماعی شرایطو د بدلون په غېږ کی

څرنګه چی کیسه په ادب کی، او ادب په هنر کی اوهنر په کلتور کی دیوې روبنائی مؤسسی ګراف جوړوی، نو کله چی دا ټوله روبنائی مؤسسه د خپلی زړبنا په حرکت او بدلون پخپل شکل اوماهیت کی تغیر منی، نو کیسه هم پدغه لار کی پړاو پر پړاو او نوی حالات لیدلی دی.

په کیسه کی هغه مهال چی د انسان سرګذشت بیانیږی نو د ټولنی په روابطو کی دده مناسبات تر تشریح لاندی راځی.

نو د دغو مناسباتو په پېژندنه کی تر هر څه وړاندی داستان زموږ سره مرسته کوی.

هغه داستانونه چی د مختلفو اجتماعی روابطو د حاکمیت په دورانونو کی لیکل سویدی، نو موږ ئې هغه وخت ښه سره څېړلای سو چی د ادبی مکتبو په هیندارہ کی ئې وګورو.

مثلا په کلاسیک دوره کی د داستان قهرمان پوره ماجراجویه دی او د دغه وخت داستانونه ټوله د ممتاز و طبقاتو پر عشق او ماجراجویه مینه شخوند وهی.

د دې شیوې په پالنه داستان لیکنی هغه وخت ډېر رواج پیدا کړ چی د نړۍ و لیرو او نژدونه کاشفین ور روان شول.

پدې وختو کی نو هغسی وزرداره د راغونه ویل سوی دی چی نه یوازی د داستان کرکټرونه بلکی د داستان فضا او محیط هم کامل وحشی اونا پېژندونکی دی.

پدې پسی چی د عصر مادی روابط پر بل مخ واوښتل او تضادونه په وفرت منځ ته راغلل نو په ادبیاتو کی ئې رومانتیک ادبی مکتب ته حاکمیت وباخښه چی کیسی یا د داستان رول د عام محرومیت په تمثیل کی څرګندو، د آزاد تخیل او آزاد عمل ساحه چی څونه پراخیده نو د عمل او عکس-العمل جریانا تو هم شدت پیدا کاوه څو رومانتسیزم پر ضد ریالیسم منځ ته راغی او پدې مکتب کی نو د داستان لیکنه د لویو او د رنو اجتماعی مباحثو د تشریح یوه داسی هیندارہ شوه چی په هغه کی د هری ټولنی او د هغی د خلکو د روابطو او مناسباتو کړه وړه بېله کوم غل وغشه پکښی ښکاری. که موږ نن د عصر لوی ولسی تاریخ پخپل ټول کم ؤ کیف وایو نو موږ ته داستانونه ښه بصیرت را کولای شی.

پدې مکتب کی د داستان قهرمان او کرکټرونه د عوامو څخه انتخابیږی ځکه علم وایی چی: تاریخ د وی جوړوی، د داستان طرح، فضا، د ماجر او تخلیق او د هغو برخورد ګرده عوامی رنګ لری نو ځکه ادبیات په خاص ډول داستان د عوامو لپاره نه یوائی د تفریح یوه ښه وسیله ده بلکی د وی خپل ځانونه او موقف پر دغه محل ښه پېژندلای شی او دغه بصیرت د وی ته هغه لاری اوچاری ورښیی چی د ژوند عالی او واقعی کمالات په هغه کی مضمر دی.

مترجم (م-ع) پراد بیاتو یوه کره کتنه

د ادبی نثر لنډ ګراف

نثر-

منثور ډراما

یو لنډ لیکل سوی تصنیف ESSAY

منثور حکایت PROSE FICTION

- تمثیلی حکایت PROSE ALLEGORY
- منثور رومان PROSE ROMANCE
- دماجراجو یا نو کیسې TALE OF ADVANTUR
- ناول NOVEL
- لنډ ناول NOVELETTE
- لنډه کیسه SHART STORY

بیوګرافی او اټو بیوګرافی

لیکو نه-ډایری-ژورنالیزم

د نثر نور اقسام

- سیاحت نامه TRAVEL
- تاریخی نثر HISTORICLE PROSE
- علمی نثر SCINTIFIC PROSE
- ادبی انتقاد (پر کتابونو تقریظ او کره کتنه)

پورتنی ګراف د (A STUDY OF THE TYPES OF LITERATURE) څخه اقتباس او ترجمه سوی دی.

د افغانستان سیندونه

عبدالصمد [فدا] ژباړه

د افغانستان طبیعي ساختمان داسي دی، چي مرکزي برخي ئي بي شمېره غرو نیولی دی. هروخت چي د هغه و طبیعي ساختمان ته نظر واچوو معلومیږي چي مرکزي او شمال شرقي برخه ئي ډېره لوړه ده او وروسته ترهغه هرڅومره چي شمالي، لوېدیځ او د جنوب وخواته راځو دلوړ والی څخه ئي کمیږي.

شمال شرقي او مرکزي غرونه ئي د پامیر څخه راجلا سویدي او هیواد ئي سر تر پایه نیولی دی، دغه غرونه چي سرونه ئي واوري او یخي پټ کړیدي د ډېرو سندونو سرچینې دي چي پر شمال لوېدیځ، جنوب او لمر ختیځو خواوو بهیږي. څرنګه چي افغانستان د براعظم په ما بین کي پروت دی او د بحر څخه لیري دی، دغه ټوله سیندونه په استثنا د کابل سیند او د هغه معاونین او ځینې جنوبي سیندونه د هیواد له داخل څخه یا د ګاونډي میوادو څخه نه وزي، د افغانستان سیندونه په ښه توګه د خړوبولو په درد خوري او د اکثرو څخه ئي شپلي او ویالي جلا کړیدي. د افغانستان سیندونه که څه هم د پسرلي په بارانی موسم کي ډک وي اما د کال په ډېرو برخو کي عبورو مرور د ډېرو سیندو څخه چندانی مشکل نه دی.

اکثره سیندونه د حمل و نقل لپاره مساعد ندي لیکن د برېښنا د استحصال لپاره ډېر مفید دي.

په لاندني ډول د هیواد د مهمو سیندونو په پوره تفصیل پیل کوو:

د کابل سیند

دغه سیند د پغمان د غرو څخه په ۱۴۰۷۹ فټه ارتفاع د اوني د کوتل په شاوخوا کي چي بنګوس میله د کابل و لوېدیځ خواته

ځوان نسل

د ه مخ باته

ای ځوانانو! آیا پوهېږئ دا څوك ده؛ دا طنازه نجلۍ چي پخپلو تورو سترګو ستاسو وخواته ګوري؟

دا ګران هیواد ستاسو د پلرو او نیکه ګانو د زېږېدنې او پالنې ځای دی چي د هغه ډك له ثروته او سر تر پایه نعمته خاوره د بېګناوو د عناد مایه او د بدبینانو د بخل او حسد واسطه ده چي رب (ج) هر کله خپل عنایت او الطاف ورلره بخښلي دي.

خاوري مي پرخوله... که څوك د بي عنایتي او کم لطفي ورباندي نظاره وکړي. آیا تاسو ځوان نسل به تحمل وکړي رښتیا چي، نه...

نو، ای ځوانانو ولي چوپ ناست یاست او د همت ملا مو نه تړئ او خپله وظیفه فعالیت او فداکاري نه ګرځوئ...

هي؟ جګ شئ؛ د خپل هیواد د پټ د ساتنې لپاره او د هغه د حیثیت د ژغورلو د پاره د همت بخښنه وکړئ او وپوهېږئ چي خدای (ج) له تاسو سره او ستا د بي آلایشو احساساتو او بي نظیرو فداکاریو ناظر به وي.

راځی ، د شروع په وخت کی د ختیځ له خوا څخه راغلی دی او د جاغوری ، د روېش ، جلرېز او مامه کی مځکی

خړو بوی ، ولی سمدستی د جنوب لوېدیځ خوا نیسی او پدې ډول د قوروغ د غره په شاوخوا کی ګرځی او د

چهار دی دشنی او سرسبزی ناوې څخه تېریږی پدې ځای کی د پغمان سیند په هغه کی یو ځای او ګډیږی

پسله تېرېدو څخه تر ګذرګاه د کابل ښار پر دوو حصو ویشی .

په بګرامی کی چی څو میله د ښار وختیځ لور ته پروت دی د لوګر سیند چی د لوګر د ناوې مځکی خړو بوی

هغه سره یو ځای کیږی د لوګر سیند چی ښاخونه ئی د خروار او وردك په شاوخوا کی د برکی برك سره یو ځای

کیږی د جنوب له خوا څخه د کابل په سیند پوری تړل کیږی .

د کابل سیند وروسته بیا لوی لوی ناوې چی د کابل وختیځ خوا ته دی او به کوی او بیا له تنګی غارو څخه تېریږی ، څو میله کښته شېلی شېلی کیږی چی مشهور ئی د ماهیپر شېله ده ، وروسته بیا د سروبی میدانو ته ورځی چی پدغه ځای کی د دغه سیند بل معاون د پنجشیر رود دی چی د هغه او به ورتوئیږی .

د پنجشیر سیند :

د پنجشیر او غوربند د ګډو سیندونو څخه منځ ته راغلی دی وروسته له هغه چی د کوهستان د شمالی برخی مځکو څخه یعنی

«جګدلك» راطی کړی د ننګرهار و میدانو ته داخلیږی نو پدغه ځای کی د علیشنګ او النګار رودونه چی د لغمان (میترلام)

د ناوې څخه راځی د شمال له خوا څخه پدغه سیند پوری تړل کیږی او د سرخ رود سیند له جنوبی طرفه څخه د هغه سره یو ځای

کیږی چی د هغه په نژدې برخه کی د «کنړ» او «کامی» سیندونه په ګډیږی .

د کنړ سیند د شمالی لور څخه د «واخان» له غرونه د «بروغیل» د کوتل په شاوخوا کی سرچینه اخلی په «جغسرای» .

کی د «پنج سیند» په هغه ګډیږی وروسته له هغه د کابل رود د ختیځ برخی را په مخ کی نیسی په غیر منظم ډول د کابل د سړك غاړی نیسی او

بیا «پېښور» ته ځی . له «ډکی» څخه تر تېرېدو وروسته ۴۲ میله چی د جلال آباد څخه لیری ده او د

«مومندو» په غرنی سیمه کی (مچنی) ته نژدې د پېښور و ښار ته داخلیږی او پدغه سیمه کی «باجوړ» او

«سوات» په هغه پوری تړل کیږی ، پدغه وخت کی یوه لویه رودخانه کېدلای شی

چی و «اټك» ته نژدې د «اندوس» و رود ته توئیږی .

د کابل د رود حرکت او بهېدل په عمومی توګه تېز او چابك دی دوړلو او نقل کولو د پاره د هغه په اکثرو

برخو کی کار اخیستل کیږی د دغه سیند د شروع څخه او به لږ دی . د دوبی په وخت کی کله کله ډېرېږی چی د هغه

څخه د کرنی او کښت لپاره استفاده کیږی او پخوانی نومونه د دغه «کوبونو» (کوفن) «کوفس اور کو» دی

د دغه سیند اوږدوالی ۳۱۶ میله دی .

هلمند

د هلمند رود او سیند د افغانستان د سترو سیندونو څخه دی چی د دغه سیند

اوږدوالی ۶۲۵ میله دی د دغه سیند جریان د هیواد د جنوب لوېدیځ لور ته دی هلمند ته «هیرمند» هم

وایي ولي د دغه سیند پخواني نوم «آن ایتي ماندر، ایتي-ماندروس، واري مانتس او هیتومت» دی. د دغه سیند سرچشمه د درهٔ اوني د جګي ناوې د شمال څخه د پغمان د لوېدیځي سلسلي څخه دی.

د جریان د لومړي سر له شروع څخه نژدې ولوېدیځ لور ته د هزاره جاتو له میانځ څخه تېریږي او وروسته د دورانو وحاصلخیزي سیمي ته داخلیږي. دغه سیند بیا ګرشك ته لانه رسېږي چي یو شمېر نور کومکي رودونه لکه د کجر، موسی کلا، د غورك او نور رودونه چي د ګرشك په کښته کي د پخواني بست خرابیو د ارغنداب او ترنك رودخانو ته چي د ټولو سیندونو لکه د ترنك ارغنداب او ارغسان څخه تشکیل سویدی ور توئیږي له دغه ځای څخه نو وروسته د هلمند سیند ته لویږي وختي چي نو د ګرمسیر د سیمي څخه تېر سو نو د لوېدیځ خواځانته اختیار وي د «چاربرجك» له شاوخوا څخه و شمال لور ته جاري کیږي.

بالاخره د هلمند ودریا چي ته ور توئیږي. د سیستان نقطه او سیمه لدغه رود څخه اوبه کیږي د دغه سیند غاړي بېله د ریګي سیمو څخه ټوله حاصل ور کوونکي او د کرهڼي وړ دي.

د هلمند سیند ډېر لوی دی او په ګرمي کي د اوبو لرونکي او ډېر ژور دی او د طغیان په وخت کي د دغه سیند جریان تند او چټك کیږي او اوبه ئي ډېر زیاتي شي د دغه سیند لوی کومکي او مرستیال د ارغنداب سیند دی، چي د ارغنداب ترنك، او ارغسان له رودونو څخه په وجود راغلي دی.

د ارغنداب سیند د هزاره وو د غرونو او د «باري حق» د کوتل وجنوب ته د هلمند سیند سرچشمه ځیني اخلي.

دغه رودخانه و جنوب لوېدیځ لور ته روانه ده وروسته د کلات د غلزائي څخه و هوار دښت ته داخلیږي او د کندهار حاصلخیزه سیمه خړوبه کوي، او په ژمي کي دغه سیندونه ولي ولي کیږي او د واوري د ویلي کېدو په وخت کي ئي اوبه زیاتیږي، او حرکت ئي تند او تېز کیږي. د دغه سیند بروالي له ۱۵۰ مترو څخه زیات دی.

د ترنك رود چي د مقر د شاوخوا غرونو څخه سرچینه اخیستي ده د جنوب لوېدیځ لور ته جریان لري له شاه جوي او کلات څخه تېریږي.

د ارغسان سیند:

دغه رود د څو زاهدو ښاخو لکه د «کند، او کندني سیندونو څخه مرکب دی د کندهار د ښار په جنوبي ناوه کي و هغه ته توئیږي هغه سیند چي د ترنك او ارغسان د رودونو سره له یوځای کېدو څخه په وجود راځي او بیا کښته د ارغنداب په سیند ورګډیږي.

د کشك نخود او میوند رودونه هم د کشك نخود په سر کي د ارغنداب و رود ته ورشېوه کیږي، وروسته نو بیا یوه ستره رودخانه ځیني جوړه، چي دغه رودخانه تر ګرشك کښته د هلمند و سیند ته لویږي چي د هلمند د رود د لوی والي موجب ګرزي.

د غزني رود:

دغه وړوکي رودخانه دوه ښاخونه لري چي یو ئي له غزني څخه تېر سوي د «شلګر» په حدود کي له هغه ښاخ سره چي ګردېز څخه راځي ور سره یوځای کیږي

باته په ۱۳ مخ کي

پر ادبیاتو یوه کره کتنه
د ښاغلی [ع] لیکنه

صنعتي انقلاب څرنګه شروع سو

تراتلسمی پېړۍ پخوا صنعت موجود ؤ، خو دهغه شکل ابتدائی ؤ او صرف د هغه قوت په مقدار تولید ورځنی حاصلیدی چی د انسان په موټ کی به پروت ؤ.

په اتلسمه پېړۍ کی ترعلمی اصولو لاندی په صنعت کی یو نړۍ خوځونکی بدلون راغی او دا بدلون عبارت له هغه ماشین څخه ؤ چی په بخار ئې حرکت کاوه او هر کارئې د یوه آن له مخی د زرګونو انسانانو دقوت په مقدار سرته رساوه.

د بخار تر کشف وړاندی خلکو د ماشین په څرخولو کی د اوبو له فشار څخه کار اخیستی او مخکی تر دې چی د ماشین پړی بخار و څرخوی په انګلستان کی د اوډلو ماشینونه په اوبو څرخیدل کوم چاچی د اوډلو ماشینونه جوړ کړل هغه لومړی سړی «هارګریوز» نومیدی، دده د تار اوډنی ماشین ته «ارک رایت» نومی انګلیس د اوبو په فشار حرکت ورکړ او «کرومیتن» نومی د پورتنی دووکسو مشینونه تکمیل کړل، خو کوم سړی چی د اوډنی ماشین په اساسی ډول په کار واچاوه هغه یو روحانی ملا ؤ، چی «کارټ رایټ» نومیدی او دا مهال هم ۱۷۳۳ کال ؤ. (۱)

په عمومی صورت چی د صنعتی انقلاب اساس کوم شی بلل کیږی هغه د بخار له قوې څخه د استفادې فکر دی.

«جیمز واټ» یو سکاتلینډی ځیرونکی ؤ چی د (ګلاسکو) په ښار کی اوسیدی، ده د بخار په طبیعت کی زیات مطالعات وکړل، د «برودت» په واسطه د بخار د تکاثف کیفیت او د هغه د انبساط کیفیت ئې کشف کړ او پوره لس کاله ئې پدې باره کی مطالعات وکړل تر څو ئې د بخار د ماشین مختلف اجزا سره واچول او په عالم کی ئې یو نوی ښور راوست.

په ابتدا کی د بخار له ماشین څخه یواځی د اوډلو (نساجی) اود کانو دغارو کیندلو په برخه کی کار اخیستل کیدی خو وروسته د لویو اورګاډو او بېړیو په چلولو کی هم استفاده ځینی وسوه.

جیمز واټ په لومړی سر کی د (نیو کامن) مشین چی د کانو په کیندلو کی کار ځینی اخیستل کیدی او د اوبو په بخار چلیدی ولید اود هغه له مخی ئې خپل هغه د بخار ماشین درست کړ چی د نورو ماشینانو مور بلل کیږی.

جیمز واټ د خپل عمر په وروستیو ورځو کی د معروف شخصیت خاوند سو او د فرانسې له علماؤ سره مخصوصا دلوی کیمیاپوهاند «لاوا-زیر» سره ئې زیاته اشنائی درلوده، او اکثر به ئې د خپلو اکتشافاتو په باره کی له هغه سره مرستی کولی. کله چی مړ سو د (ویست-مینستر) په کلیسا کی ئې مجسمه و درول سوه او دا

---

(۱) کلیات تاریخ تمدن جدید (۸۰ مخ)

توری پر لیکل سویدی:

« ددغی مجسمی له نصب کولو څخه‌دا نه‌دی منظور، چی دده نوم پـاته‌سی ځکه ترهره وخته

پوری چی هنر د سولی په غېږ کی پاته او رواج لری، دانوم به باقی وی، بلکی دلته منظوردادی چی بشری نوع پوه سی چی باید د

هغه‌سړی لپاره چی په خورانبه ډول ئی‌دوی ته خدمت کړیدی‌حق پېژندونکی وی. (۱)

د اوړلو تر ماشین تقریباً ۶۰ کـاله وروسته پـه ۱۷۹۳ کی یو امریکائی پوهاند «ویټ نی» د حلاجی مـاشین اختراع کړ او

پدې ډول دنساجی په کارکی یو نوی ډول چټکی راغله.

په اتلسمه پېړۍ کی سر بېره پر نورو ترقیو په ساینس کی‌هم لوی ګامونه واخیستل سوه چی هغه هریو دصنعت دچټک خبرېدو په‌لارکی زیاته مرسته‌وکړه.

دا مهـال په فـزیك کی د (میـزان الحـراره) اختـراع د یادونی وړ ده، چی په ترتیب سره «فارنهیت» انګلیس، «دئومور»

فرانسوی، او «سلسیوس» سویډنی منځ‌ته راوړه او وروستی سړی د سانتیګراډ تقسیمات معین کړل.

(۱) دتمدن قهرمان دژورف کاتلرا. بیم جاف تالیف اود [ثابت] ترجمه ۲۴۱ مخ.

په کیمیا کی د «لاوازیر» فرانسوی خدمت، د ستاینی او یادونی وړ دی. نو موږ هغه اساسات او قوانین کشف

کړل چی عصری کیمیا پوهنه پرهغه ولاړه ده.

«لاوازیر» دهوا د ترکیب اجراماتو اواو بو په ترکیب کی مطالعات وکړل او د معروف کیمیـا پوهـاند

«پریستلی» پـر کشف سوی «ګیس» د (اکسیجن) نـوم کښېښود، ده دخپلو ژورو مطالعاتو له لاری د (اکسیجن)

خاصیت کاملاً وڅېړی او بیائی دا یونـانی نوم پر کـښېښود چـی معنی ئـی (تیزاب جوړونکی) دی او

دا معروفه قضیه ئی دخپلو تحقیقاتو اساس وګرزوله (که څه‌هم کېدای سی چی مادې ته‌صورتاً تغیر ورکولی

سی، ولی وزن ته ئی تغیر نه‌سی ورکول کېدای) په دغه‌زمانه کی علاوه پر کیمیا په‌ریاضی او طبیعی علومو

کی هم نـوی کشفیات په عمل راغله چی‌دهغو هریو دصنعت په پرمخ بیولو او تکامل کی اثر درلود.

دافغانستان...

د ۱۱ مخ پاته

له‌دې نه پس نو دغزنی سیند ځینی تشکیل او جوړیږی بیا نو دغه رودخانی جنوب او لوېدیځی خـواوی طی

کوی‌دغزنی په «آب‌استاده) کی توئیږی. ددغـه رود اوږدوالی تقریباً دوه‌سوه کېلومتره دی.

دپالتو رود:

دغه‌رود کوچنی دی چی دختیځی پلوه څخه‌دزرغون ښارنه تېریږی له‌هغه وروسته داهم لکه‌د غزنی رود خپله د غـزنی په (آب استاده) ګډیږی. دپالتودسیندا وږد-والی تقریبـاً سل کېلومتر دی.

دګومل رود:

دارګون لـه شاوخوا څخه د ګومل سیند راغلی او جنوبی پلوته په‌حرکت کی‌دی اود سرحد په کرښه کی‌د «کندر» رود ورته را توئیږی پدغه وخت کی نو دختیځ پلو غوره‌او اختیا-ری نو بیا د (سیند) رود ته ورتوئیږی.

ددغـه رود اوږد والی ۳۵۰ کېلومتره‌دی.

(نوربیا)

ښاغلی حبیبی

پسرلی شو

بیا له بڼه پورته کیږی ښه ږغونه
ته وا راغله د بلبلو بهیرونه

بڼ زرغون شو غر زرغون له پسرلی شو
ونو ځان کړ آراسته په پسولونه
دا د غرونو په لمنو کی لاله دی؟
که پراته دی شهیدان سره کفنونه
دا نڅا د پېغلو نجونو پر مرغه ده؟
که کلی پر مرغزار وهی ټوپونه؟
خو چی سترګی کارکوی زرغونه ښکاری
غر، بېدیا، پټۍ، غونډۍ، او دامانونه
سپین غر ټوله په غټولو سور زرغون سو
هندوکش باندی نیسان کړی نثارونه
په بامی بلخ کی بامی غوړیږی خاندی
په باختر کی د سروګلو دی سیلونه
نو بهار دی د پسرلی جنډۍ لوړیږی
خلک ځی ام البلاد کی کړی جشنونه
پر تخار د پسرلی وږمی چلیږی
مړه ګلان بیا برخه مومی له ژوندونه

پر کابل او ننګرهار چې بهار یو کا
ته وا راغی مسیحا یو کړی دمونه
ارغنداو باندی نثار د شګوفو کا
په نڅا نڅا هلمند کړی غور ځنګونه

خړ ترنګ چې بهېده کا ته وا لولی
د متی نیکه د مینی دېوانونه
هریرود پر غاړه نن د ګل نڅا ده
که راغلی پری د غور دی زلمی جونه

د ویښتیا ږغونه بیا پاڅی له بسته
له غزنی ار وېدل کیږی ښه ږغونه
د پسرلی مناظر هسی دلربا دی
چې په خوندئې نه مړیږی سترګی زړونه

پسرلی د مېنی مینه ډېر وینه
هو و بڼ ته مایل کاندی بلبلونه
څو پسرلی په هر نوروز راځی هیواد له
څوچې لوړ وی پرنړۍ باندی دا غرونه

څو چې اور د لاله بل د غرو په کور وی
څو چې بل وی د سپوږمۍ لمر مثالونه
څوچې ستوری پر آسمان بریښی په شپو کی
څوچې شپی ورځی راځی پر هیوادونه

تل تر تل اوسی وطنه و دان اوسی
ټول اوقات دی پسرلی وه په ګلونه
د قدرت لاس دی تل ستا په ښکلېدو وی
تل و دان اوسه په سعی له پښتونه

څلور ریځه

طبیعت جوړ کړی دا رنګه سنګار دی،
باغ او بڼ چې نن لیده سی ښه ګلزار دی
دښت ؤ غرونه ګوره بل رنګه ښکاریږی
پاس و ګوره د اوریځو غړ مبهار دی

[فدا]

بناغلی [بېنوا]

هلمند بیا په څپو راغی

بیا ئې وځکل له کوم خمه ډک جامونه
دا د هسک پېغله چې ناڅی له جنونه
له مستی نه ئې ساغر له لاسه پرېووت
په څو ځاځکو ئې کړه مست سپېر ډاګونه

د زلما په میو مستی چټی ګوره !
چې خپاره ئې لور په لور کړه اربلونه
هم ځغلا کا هم نڅا کا هم شنا کا
چې ترڅنګ کړی دروپو سپین امپلونه

د کږدیو مخ غاړولو سور بخمل کا
چې پری وکا زلمی نجو نی اتڼونه
له سپېرو خاورو بامی ګلونه پاڅی
چې پری تېر شی د نجنګیو پلوونه

کتهار دزرکومړه زړونه ژوندی کړه
چې نغمو نغمو کی ستائی شینکی غرونه
هلمند بیا په څپو راغی غاړی غاړی
چې ورغاړه غړی شوه څپان نیزونه

د پسرلی ناوی ودیږی ورائې پنډه
مخ کاته اخلی دغرو سورکی لالونه
نندارو ته ئې وتلی لوی واړه دی
خو چا مسته خندا راوړه چا غمونه

د هغو به څه پسرلی وی چې ولاړ وی
په کږو غاړو د بل په در شلونه
ژوند ئې وی دبل دپاره مړینی هم لا
جاروی دبل ترخوی تل خپل خویونه

آه څښتنه چې دی ژوند هرشی ته ورکا
په زرغادی د لمانځل سپېره رغونه

ښاغلی [نوری]

تورو غرو کی سره ګلونه

پسرلی پر مځکو ولـوئل ګلونه
په ګلونو ئې ښایسته کړه سمی غرونه

تورو غرو کی سره ګلونه هسی ښکاری
لکه ښکاری تور اربل کی سره خالونه

دیتیم په دود چی لخ لپړ ولاړ وو
بیله پاڼو د سپیرو ونـو ښاخونه

زرغونه نمری پسرلی ورلره راوړه
په شنو پاڼو سره ئې ورکړه سینګارونه

ټولو ونو ته ئې نوی ژوندون ورکړ
چی په ژمی ئې هیله نه وه له ژوندونه

یتیم رخه اوس له دوی سره هم کاندی
زموږ به څوك راپټوی سر تور سرونه

د ۱٦ مخ پاته

چی کریابی میری ستا له پیرزوینی
شنی تالی سوی شنی لمبی شنی دښتونه

موږ له هسی ژونده وژغوره خاونده
خپلو اکی موتل نصیب کړه څوچی یونه

چی موژوند د پسرلی په څپر سمسور وی
خوند به اخلو له دې ښکلی نندارتونه

دهیواد د مشاهیرو په لړ کی:

زرغون خان جنت مکان، په قوم نورزی ؤ

روایت کا: دوست محمد کاکړ پخپل کتاب (غرغښت نامه) کی کښلی دی چی زرغون خان د نوزاد نورزی ؤ او په (۸۹۱ھ) کال کی مبارك و هرات ته ولاړ، او له هغه ځایه په عراق او خراسان سوروکا او داوزبکو په جنګو کی زرغون ښکاره کړه ښه مړانه او غیرت، چی شیبانی خان سیستان ته ورسید نو زرغون خان دده سره جنګونه وکړه چی د ازبکو لښکر ډېر ومړل.

دوست محمد کاکړ هسی نقل کا: چی په سنه (۹۱۲ھ) زه ولاړم هرات په کجران کی می د ملا ایوب تیمنی څخه د زرغون خان دغزلو او شعرو دیوان ولید چی اوراق ئی وه په شمېر درې سوه.

او هم د دوست محمد کاکړ روایت دی: چی زرغون ډېر ضعیف سو او په سنه (۹۲۱ھ) په دېراوت کی وفات سو.

دوست محمد کاکړ پخپله غرغښت نامه کی دالاندی دوه ایځ چی مثنوی د ساقی نامی دی دده داشعارو له دیوانه رانقل کوی:

مثنوی ساقی نامه

ساقی پاڅه پیاله راکړه
مرور یار می پخلا کړه
او به توئی په لښو کړه
او رمی مړ په دې او بو کړه

پسر لی سو غنچه ګل کا
زلفی تاری د سنبل کا
بلبلان شور و فغان کا
کړېدن په ګلستان کا

زاهد وزی صومعی څخه
شراب پیری میخانی څخه

هرسړی په میو مست دی
دی بهار کی ګلپرست دی
په راغو کی سرې لنبی دی
د غټولو نندارې دی

جهان ټوله سور او زرغون شو
وچ راغه ښکلی ګلګون شو

سړی ټول شورو شغب کا
یارانی کاندی طلب کا
بهار وقت د یارانی دی
ښه موسم د پیمانی دی
نو ساقی پاڅه بهار دی
نن ژوندون سبا رفتار دی

دنیا پاته موږ به څونه
تورو خاورو کی به یونه
پیمانه ډکه له می کړه
بزم تود په پیا پی کړه

چی یو دم سمه آزاد
نا ښاد زړه می سینه ښاد
ساقی پاڅه وخت دګل دی
په جوشش کی خم دمل دی

وخت د میو د وپشو دی
د پیالـو د ډکېدو دی
هغه څوك اوس د پېغور دی،
چې جام تش ونسکور دی

مستان ګرزی په باغوکی
مستی کاندی په راغوکی
لاس په لاس دی یارانی کا
یو په بل نازونخرې کا

مجنون وصل له لیلا دی
د جمال پـه تماشا دی
نه غمجن سته نه بېلتون سته
نه مهجور نه ځګر خون سته

تر تـا وګرزمـه راسه
ساقی یو ګړی پخلا سه
ما ته جام دربل ولور را
چې یو تش سی ډك ئې نور را

اور می بل دزړه په کور کړه
له هر چا هر څه ئې تور کړه
چې بل څه نه وی الف وی
ټولـه مهرو محبت وی

ټول اخلاص وی او صفا وی
تیاره ورکه سی رڼا وی
له زړه کم غش او دغل سی
جهان ټول له ګل او مل سی

ساقی ستا مهر مطلوب دی
نو بهار ځکه مرغوب دی
که ستا لور، پېرزو نه وی
نو بهار به په څه ښه وی؟

خوند به نکا رنګ دګلو
بی مستیو بی لـه ملو
نه به بزم په شور تود سی
نه نغمی نه به سرود سی

جام به تش د آرزو سی
ورك به مهر او پېرزو سی
نو ساقی پا څه بهار دی
بزم تا له امید وار دی

یاران ناست ستر ګی ځلوردی
ستا د جام په امید نور دی
ته هم راسه عنایت کړه
بـزم تود د محبت کړه

له سرو ملو څخه ډك جام کړه
د یارانو ئې انعام کړه
چې سوې بزم په می تود سی
د رندانو غوږو سرود سی

د جهان ویرو وغم هېر کا
یـو دم ښه عشرت تېر کا
چې په مخ کی مو بېلتون دی
له جهانه سبایـون دی

(بقیه خزانه)

چینایانو ویلی دی

کېدای شی چې سړې چـای او سړه وریجو تـه تحمل وشی لېکن سړه کتنه او سړه خـبره د تحمل وړ نه ده .

وختی چې غضب خبری کوی، عقل خپله څهره پټوی
د چاچې وجدان پاك وی تل خوشحاله وی

ښاغلی [صدیقی]

د بمبئی د تیاتر یو لنډ تاریخ

په هغه وختو کی چی دهند او آسیا په ټولو سیمو کی هیڅ تیاتر نه ؤ موجود ، دا تیاتـر منځ ته راغلی دی .

ددې تیاتر په تاریخی موقف باندی ډېر آثار لیکل سوی دی خصوصاً په هندی ژبو کی چی موږ دهغو په استناد دهغه یو لنډ تاریخ وړاندی کوو .

هغه وخت چی د انگلستان پاچا « دوهم چارلس » د پرتـگال د پاچا « شپږم الفانسو » د لـور « کهترائن- آف بـرنگیزا » سره واده وکړ ، نو د پرتگال د پاچـا لـور تـه بمبئی پـه ولـور کـی ورسپـد او پـه ۱۶۶۵ م کال کی پردې سیمه باندی د انگریزانو پوره سلطه قایمه سوه په ۱۶۶۸م کی دوهم چـارلس د بمبئی سیمه اسټیټ انډیا کمپنی ته په لس زره پونډه کالنی کرایه ورکړه .

پخوا لـه دې نه دغـه کمپنی په «صورت» کی په تجارتی او سیاسی فعالیتونو بوخت وه .

«صورت» دهند په ټولو سیمو کی د مغولیه پاچایانو یـو مهم عسکری مرکز ګڼل کېده .

پـه کـوم وخت کـی چـی دغـه کمپنی د صورت نه بمبئی ته لاړه

[پرتویراج] ددغه تیاتر یو پخوانی لوبغاړی د پښتون په ډراما کی

نو هلته ئې یو نوی اجتماعی محیط تشکیل کړ .

انگریـزانو د خپلی تفریح دپاره او یا پدې لحـاظ چـی ډرامـاتیک استعدادونـه د هغوی د سیاسی حلقو دتاثیر لاندی وروزل شی دغه تیاتر مینځ ته راوړ .

دبمبئی «گزټ» مجله د ۱۸۴۲م د جنـوری پـه څلورمه تـاریخی ګڼه کی لیکی : په کوم وخت کی چی دبمبئی تیاتر دتعمیر دپاره یوه جرګه د [هنری فاکټ] په مشری جـوړه سوه نو

هنری فاکټ ددې تیاتر د پرانستلو په ترڅ کی وویل:

دا تیاتر په ۱۷۵۰ کی د خلګو په بسپنو جوړ سوی دی. د ۵۰ کلدارو څخه نیولی تر شپږسوه کلدارو پوری خلګو ددې تیاتر د جوړولو د پاره بسپنی ورکړیدی. حکومت هم بی د کوم شرط او قید څخه د بمبئی د «کوزه خانی» مځکه ددې تیاتر د پاره ورکړه.

ملکه [کهترائن آف برنګیزا] چی د بمنئی ښار ورته په ولور کی رسېدلی وو

تر ۵۰ کاله پوری دا تیاتر هلته پخپل ځای پاتی ؤ، دومره عایدات ئې نه درلودل چی د هغه د لګښت پیمانه ورباندی ډکه سوی وای، د پورو د فشار څخه هیڅکله نه خلاصېده، کوم وخت چی د تیاتر د ترمیم موضوع مینځ ته راغله نو پدې وخت کی ۹ زره کلداری پوروړی ؤ، بیا د خلګو د بسپنو له برکته له پوره خلاص سو او سربېره په هغه باندی پنځه زره کلداری د تیاتر د ترمیم د پاره پاتی سوی کله چی په ۱۸۱۸م کال کی دا تیاتر بیا افتتاح شو، نو پدې وخت کی ۱۷ زره کلداری پوروړی وو.

د ځینو خلګو په نظریه ددې تیاتر نظام، چندانی ښه نه ؤ نو ځکه د هغه اقتصادی تعادل نه برابرېده.

د بمبئی نوی تیاتر

د خلګو د غوښتنو په اثر په ۱۸۳۶ کال کی د بمبئی حکومت ۳۴۶۲ کلداری د نوی تیاتر د تعمیر د پاره منظور کړی.

«جګنات شینګرسیټ» خپله شخصی مځکه ددې نوی تیاتر د پاره وقف کړه دده په پاملرنه په لږ موده کی دا تعمیر بشپړ سو او د ډاکتر «بهاوداجی» څخه ئې وغوښتل چی ددې تیاتر د پاره ډرامی ولیکی، د هغه لومړی ډرامه «راجه ګوپی چند جلند» وه چی د تیاتر په ستیج کی ولوبول شوه.

د هند د پاچایانو او «راجه کانونه هریوتن» د فن او ادب او موسیقی د پاره ډېر لوی، لوی خدمتونه سرته رسولی دی.

[کی کی دون] یو پخوانی هندی لوبغاړی

واجدعلی شاه اختر د «اودی پاچا» هم پخپل وار د ادبی او فنی نړۍ د پاره د قدر وړ کارنامی پای ته رسولی دی

سربېره پردی چی دده په وخت کی د ښکلو پېغلو او ځلمیانو د موسیقی د زده کړی د پاره په «اوده» کی یو اصولی ښونځی تاسیس سوی ؤ دده د «حضور-

شکوفه

ښکلی او ګلالی شکوفی!
تا ته څومره ښکلا در کړه سوېده او ستا ښایسته رنګونه څومره زړه وړونکی دی.

ته د بادام په لښتو، د زردالو په ښاخونو د شفتالو په څانګو، د مڼو او ناکو په شنو پاڼو کی بل بل راز ایسې او جلا رنګونه لري.

مګر افسوس او بیا افسوس چی زیات عمر او ډېر پایښت نلري او زموږ په باغو کی ډېر وخت نه تېروي.

ته د پسرلی هغه ښکلی سوغات ئې چی ډېر ژر او په یوه نری شمال ژړېږی او نه پسرلی سره هم وداع کوي.

ما لا ستر ګی ښی نه وي غړولی؛ په مړو ستر ګو می درته نه وه کتلی؛ ستا په نندارو لا نه وم موړ سوی، چی ستا پاڼی په مځکه توی سوی او د ونو ښاخونه لغړ سوه.

زه نه پوهېدم چی وخت او فرصت دومره ژر تېر ېږی او هر څه په راتلو او تېر ېدو کی دی.

کله د سپوږمۍ په شپو کی به می خوب نه کاوه او تر سهاره به می تا ته کتل.

د وخت او زمانی سیر تل همدغسی جاری دی او هیڅ وخت توقف نه کوی؛ مګر سړی دا سیر د شکوفی په وخت کی ښه محسوس کړی او پدغه تګ باندی ښه وپوهیږی.

د شکوفی ژر تېر ېدل سړی پوهوی چی باید د فرصت په بېره تګ تر نظر لاندی ونیسی او له غفلته ځان وژغوری.

ډېر افسوس دی، که دغه د رنګ او

« د ۲۱ مخ پاته »

باغ » په یوه ښکلی او حساسه برخه کی یو آزاد تیاتر هم جوړ سوی و چی هلته هر څوک بېله کوم امتیاز څخه ورتلای شو.

د هند د تاریخی پاڼو څخه معلومیږی چی د هند د آخیرنی پاچا «بهادرشاه» معاصر وو.

ښکلیتوب کاروان ته سړی په ځیر ځیر نه ګوری او د عمر تېر ېدو ته نه ملتفت کیږی.

[فیضی]

د عزیز احمد [ترقی] ژباړه

جیوردانو برونو

په پخوا وختو کی د ایټالیا څخه و سویس ته تګ ډېر مشکل وو، ځکه دا دوه مملکته د آلپ دغرو لوی سلسلی یو دبل سره جلا کړیدی. او پدغو باریکو او خطرناکو لارو کی به خلک دلوړو اوژورو ځایو څخه تېر پدل .

پیسه داره او بډایان خلک به د کچرو او نورو بارو ړونکو حیواناتو په واسطه ددې اوږدو او خطرناکو لارو څخه تېر پدل اود

هغو منطقو استېدونکو کوم چی دوی له هغو منطقو څخه تېر پدل و دوی ته به ئې دلاری هدایت ورکاوه .

فقیر او بېچاره خلک به پیاده تلل او کله به ئې لار ورکه کړه او کله به په واورو او یخیو کی دیخ له لاسه وچ

سول . او یا به له کومه لوړ ځایه څخه و یوې کندی یا

شپلی ته ولوېده او یا به ګر سره ورک سوه پدغه صورتو

سره به بی توانه خلک مړه کېدل اود ژمی دا سرسخته یخ دمرګ او ورکېدو نښانه وه .

سپور او پیاده مسافرانو به لوی، لوی کاروانونه تشکیلول، چی وکولای شی

د لارنیونکو او غلو څخه چی په هغه وخت کی به ئې د مسافرانو دتګ لار نیولی وه اودوی به ئې وژل او شیان به ئې ځینی وړل دخپل ځان دفاع وکړی .

د ۱۵۷۶ کال په ژمی کی یو ایټالوی ځوان چی د مذهبی لارښوونکو کالی ئې اغوستی وه

اودیوه کاروان سره چی د سویس وخواته تلی ملګری سو .

په هغو ځایو کی چی به کاروان اړول، دا ایټالوی ځوان به له خپلو سفری ملګرو څخه جلا کېدی او په یوه ګوښه او تاریک

ځای کی به کښېنستی . په عمومی خبرو کی ئې ګډون نه کاوه، فقط که به چا سوال ځینی وکړ جواب ئې ورکاوه اود خبرو کولو په

وخت کی به ئې د خپل کوسی په لمن ځان پټ کړ . ده چی په لار کی ګوښه ګیری کول او په عمومی

خبرو کی ئې شرکت او ګډون نه کاوه سبب ئې داؤ چی د پلیسو مذهبی مشرانو اونورو کسانو

څخه ئې ځان ژغوری .

او دده د سفر ملګری د سفر تر پایه پوری ددې ایټالوی ځوان په رازونه بوهیدل

اما دادی چی زه اوس و تاسو ته نقل کوم :

ددې ځوان نوم [جیوردانو برونو] ؤ اوده دخپلی (آزادفکری) په علت ډېری سختی جزاوی ولیدی دخپل زېږېدو دځایه څخه یعنی

د ایټالیا څخه تښتېدلی ؤ اودده آزادفکری داوه چی جرئت ئې وکی په هغو شیانو کی کوم چی د کلیسا دخوا

منع سوی او اجازه نه ورکول کېده . ده په هغو مسایلو کی دفکر کولو جرئت وکی .

جیوردانو برونو په ۱۵۴۸ کال کی د «نولا» په ښار کی چی د ایټالیا د کوچنیو ښارو څخه دی سترګی پر نړۍ خلاصی

کړیدی او په کوچنیوالی کی یتیم سو. دده د خپلوانو څخه یو دده تربیه پرغاړه واخیستله.

په هغه وخت کی چی به چا علم او زده کړه کول نو مجبور ؤ چی کشیشانو او نورو مذهبی مشرانو ته

مراجعه وکړی. اود هغه وخت تحصیلات مربوط په دینی او مذهبی علومو سره وه.

د کاتولیک مذهبی مشران بیا پر ډېرو ډلو وېشل سوی وه او پدې ټولو طایفو کی قوی طایفه د دومینیکان طایفه

وه. و جیوردانو ته د دومینیکان د طایفی غړو تعلیم ورکړ.

جیوردانو ډېر ځیرک او هوښیار سړی ؤ او پدې باره کی به ئې ځان ته زیات معلومات حاصلول. لومړی

د دومینیکان د طایفی د یوه غړی په حیث ؤ او وروسته بیا د کشیش و درجی ته ورسېدی.

جیوردانو بېرونو حتی په ځوانی کی د کلیسا د تعلیماتو په باره کی فکر کاوه او ډېری نکتی دده په نظر غلطی ورتلی.

یوه ورځ د کتابخانی په یوه کونج کی په یوه لیری او پټه الماری کی یو کتاب پروت ؤ چی چرمی پوښ ئې درلودی او ګرزؤ

دوړی ئې نیولی وه شاوخوا څنډی ئې موږکانو خوړلی وې ده پیدا کړ، او کله چی دا کتاب ئې خلاص کی و ئې لید نو د اپټالوی عنوان

څخه ئې و پوهېدی چی دا د [نیکلا-کپرنیك] (۱) اثر د «آسمان د جسمو د ګرزېدو په باره کی» دی.

جیوردانو ددې کتاب په باره کی ډېری خبری اورېدلی وې او دغه ؤ چی دغه لویه خزانه په لاس ئې کښېوته او وکولای ئې سوای

چی دده آثار دده د ژبی نه بلکی د مذهبی مشرانو د ژبی واوری.

برونو به دا کتاب په کتابخانه کی پټ وایه، او یا به ئې په آرامه سره چی څوك به نه ؤ پخپله حجره کی په خلوت سره دروازه به ئې

قلف کړه او د کتاب مطالعه به ئې کوله برونو د کپرنیك د دې روښانه آثارو څخه په تعجب ؤ او نه ئې سوای کولای چی دده د اځلانده

آثار دی د جیوردانو په فکر کی پاته شی او د اختیاره څخه ئې ووتل او دغه د تعجب ډك کتاب چی ئې کتلی ؤ د کپرنیك دغه آثار ئې د

دومینیکان د طایفی و یوه غړی ته کښېنوده او هغه مذهبی مشر د برونو هغه دلاوری او حقیقی خبری د

دومینیکان د طایفی مشر یا رئیس ته وویل او خبر ئې ورکړ.

دغه ځوان په نتیجه کی ډېری سختی جزاوی ولیدلی او مجبوره سو د کشیشی د چارو څخه ئې استعفا وکړه او د وطنه څخه وتښتېدی.

اما د مذهبی لارښوونکو یا مشرانو جامه ئې لا اغوستی وه ځکه چی په مملکت کی په زرو، زرو مذهبی مشران

وجود درلودی او خلك د دوی څه بېر پدل او د دوی احترام ئې کاوه او په درنه سترګه ئې ورته کتل.

دغه مذهبی جامی د جیوردانو د دفاع د پاره ډېره ښه وسیله وه او پدغه مسافرت کی یو پټ ځای ته

ولاړی. په کلو، کلو ئې نسوای کولای چی خپل مملکت ووینی. برونو خپل

---

(۱) نیکلا کپرنیك: د لهستان د لویو او مشهورو ستورو پېژندونکو څخه دی چی په ۱۴۷۳ کال کی زېږېدلی او په ۱۵۴۳ کال کی سترګی د نړی څخه پټی کړیدی.
«مترجم»

پاته عمر د کپرنیك د آثارو
په خپرولو کی تېر کړ.
که څه هم دی د کپرنیك
شاګرد نه ؤ خو د کپرنیك

آثار ئې تعقیب او تکمیل
کړه او دهغه په انتشار ئې
پیل وکړ. دده تصورات د
کپرنیك تر تصوراتو ژور
وه.

برونو به ویل چی نه
یواځی مځکه پرخپل محور
باندی څرخی بلکی لمر هم
پرخپل محور باندی څرخی

دده دا نظریه وروسته تر ډیرو
کلو پس له هغه چی دی مړ
سو تائید سوه.

دغه رنګه ده ویل چی ډیر
لیری سیارات هم دلمر پر
شاوخوا باندی راګرځی او
هغه نوی سیارې چی تر اوسه

پوری ندی پېژندل سوی ډیر
لږ موده وروسته به کشف
شی.

لومړنی نوی سیاره
یعنی «اورانوس» دوه سوه
کاله وروسته د برونو تر
مرګ او لږ موده وروسته

تر هغه د «نیپتون» او (پلوتو)
او په سوو کوچنی سیاری د
«آستروئید» پنامه کشف
سوی او پدغه ترتیب سره ددې
نا بغه سړی پېشکوئی حقیقت

او رښتیا سوه.

کپرنیك ولیروستوروته توجه
نه وه کړی. برونو عقیده درلوده
چی دهر ستوری لوی والی دلمر
دلوی والی په شان دی. او شاو-

خوا ئې سیارې په حرکت کی دی
موږ پدې سبب نسو کولای چی
نوری سیارې او ستوری وو ینو چی
دهغوی فاصله زموږ څخه ډیره
لیری ده. او د هر ستوری لوی-

والی زموږ دلمر دلوی والی سره
برابردی او ددې ستوروشمېر په
فضا کی ډیر زیات دی.

برونو همدغه رنګه عقیده
درلوده چی دغه ټوله موجودات
چی د نړۍ په فضا کی پراته دی
شروع او آخر لری او هر یو پیوسته

د تغیر ؤ تبدیل په حالت کی دی.
اما د عیسوی مذهب لارښوونکو
او مشرانو وخلکو ته داسی تعلیم
ورکاوه چی د کائناتو تغیر نه

قبلېدونکی دی او همېشه چی په
هغه شکل پیدا سو یده تر پای پوری
به پر هغه شکل سره وجود لری.

برونو فوق العاده هوښیار
او ځیرك سړی ؤ. ده تنها د فکر
په قوت داسی شیان پیدا او کشف

کړه چی وروسته تر ده ستورو
پېژندونکو د تلسکوپ په واسطه
کشف کړه.

حتی نن ورځ د تصور ډیر
مشکل دی، چی جیوردانو برونو

څه قوی تغیر او تحول د نجوم
په علم کی ومنځ ته راوړی
دی، ګواکی بندی ئې د بندی-
خانی څخه خلاص کړ. او دا

بندیخانه د تنګو او تاریکو
ځایو او د پوالو پر ځای د نړۍ
په فضا کی د نړۍ د اد تعجب
او حیرانونکی دنیا چی نه

ئې شروع معلوم ده نه ئې
آخره مشاهده کیږی او یو
منجم چی «کپلر» نومیدی
اولږ موده وروسته ئې تر ده

ژوند کاوه پردې باندی
اقرار وکړ، هغه وخت چی
ما ددې مشهوره اپټا لوی
نوشتی مطالعه کولی سر

می دوران وخوړ او فکر می
په یوداسی فضا کی والوتی
چی نه ئې مرکز معلوم ؤ او
نه ئې ابتدا معلومه وه او نه

ئې انتها معلومه وه و بیرېدم
په ډیره بېره او وحشت اخته
سوم.

کلیسا جیوردانو ئی
خپل ډیر سخت مخالف او
دښمن شمېری. د برونو دا
خبری چی نوری بی شمېره
نړۍ وجود لری او د نړۍ

فضا نه ابتدا او نه انتها لری
او د کشیشانو ادعا پدې باره
کی چی د عیسویانو مذهب پر
دغو خبرو او شیانو ولاړ دی

ور رد کوی ئې . او هغه ادعا نامه چې د کلیسا له خوا څخه پر برونو وه-۱۳۰ مادې ئې درلودی.

د کلیسا لارښوونکو او رهبرانو دی تکفیر کړ او د مملکتو وواکمنو ته ئې یو په بل پسی خبر ورکړ چې د برونو د مسافرت جلوګیری وکړی او دی پخپل مملکت کی پرېښودی . هر څونی چې به برونو مجبور وسفر او مهاجرت ته کېدی په هغه اندازه ئې د خلکو افکار ور روښان کول او دغه خپل صحیح تعلیمات ئې د نړۍ په مملکتو کی نشرول.

برونو ډېره موده په تبعید کی تېره کړی وه، او دائې آرزو درلوده چې خپل مملکت اېټالیا ته ولاړ شی او پخپل مملکت کی هم دا خپل تعلیمات منتشر کړی او دده دښمنانو او مخالفینو ددې مشهور ستوری پېژندونکی ددې موقع څخه استفاده وکړه .

د اېټالیا د اشرافو د طبقی څخه یو چې (جیوانی-موسینګو) نومېدی د برونو ډېری لیکنی چې د اروپا په بعضی مملکتو کی چاپ سوی وې سره راټولی کړی او دده توجه ئې ودې ته جلب کړه او وبرونو ته ئې خط ورواستاوه او خواهش ئې ځینی وکړ چې بیرته خپل مملکت ته راسه او خلکو ته زده کړه او تعلیمات ورکړی پدغو چموسره ئې ده ته چالونه برابر کړی وه . ولی چې بیرته راتګ ددې تبعیدی وخپل مملکت ته ډېر خطرناک ؤ، او ددې دپاره چې برونو ددوی پدې توطئو خبر نشی نو موسینګو وده ته خائنانه اطمینان ورکړی ؤ چې څنګه یو سړی به خپل استاد و دښمن ته په لاس ورکوی او دغه ډول ئې اطمینان ورکړی چې زه تا دټولو دښمنانو څخه ژغورم. برونو دده په خبرو اعتماد وکړ او خصوصاً ئې په بېګانه مملکتو کی ډېری سرګردانۍ، تکلیفونه او مایوسی لیدلی وې . (پاته لری)

له هری خوا:

د ماتم نښانی

په نړۍ کی ډېر تور رنګ د ماتم نښانه ده نور هیوادونه هم سته چې د دغه منظور لپاره ئې نور رنګونه ټاکلی دی چې لدغه جملی څخه برازیل سور رنګ، په چین او جاپان کی سپین رنګ د سوګواری نښانه ده، او د جنوبی افریقا په یوه هیواد کی ژړ رنګ د ماتم لپاره او همدارنګه د استرالیا په جنوبی جزایرو کی شین رنګ د ماتم په ورځو کی استعمالوی.

✡✡

ژوندی مصنوعی لاسونه

مصنوعی فکری اعضالا ترنن ورځی پوری دومره حساسیت نلری، څومره چې طبیعی نورمال اعضا حساس دی.

له همدغه کبله څخه انسانان په نړۍ کی ودې ته متوجه سول چې «بیو-الکتریکی (ژوندی برقی) لاسونو په عوض د کبرنتیک په مخصوصو حرارتی ترتیباتو مجهز لاسونه جوړ کړی.

د کبرنتیک لاسونه په خپلو مخصوصو حرارتی ترتیباتو سره کولای سی چې د یو شی شکل، تود-والی او سوړوالی حس کړی.

د خندا !!

پلوشے

محمد ناصر [نصرت]

له شیطان څخه پوښتنه

یو سړی له شیطان څخه پوښتنه وکړه: چی له چا څخه ډېر ممنون یی؟

شیطان ورته وویل: چی د بی لمانځه خر کار څخه .

سړی بیا وپوښتل چی ولی؟

شیطان جواب ورکړ، ددې دپاره چی زه ورته وایم: لمونځ مه کوه؛ هغه خپل مخ لاهم نه مینځی .

✡✡✡

د نهو طلاقو معجون

یو سپین ږیری چی د رې ښځی ئې درلودلی طبیب ته ورغلی او ورته ویی ویل چی: مدام می ملا او مثانه درد کوی علاج ئې څه، او څه شی وخورم چی ښه سم؟

طبیب ورته وویل: علاج ئې د نه طلاقو معجون دی .

✡✡✡

ډاکتر او اشپز

د یو ډاکتر دا عادت ؤ چی هر کله به د خپلو پیسه دارو ناروغانو کره تی، لومړی به د آشپزانو دخوښی د پاره اشپزخانی ته ورغلی او چی هر یو به ئې په غېږ کی ونیو، ورته وبه ئې ویل: که تاسی نه یاست زموږ ډاکترانو کار خراب دی، ځکه ستاسی ناکاره غذاوی چی هر څوك و خوری هغه ناروغه شی ، زموږ دپاره یو اسباب برابر، مشتریان مو زیات او ډېره ګټه هم کوو .

✡✡✡

ډېره ښه عضوه

کله چی لقمان حکیم غلام ؤ نو یوه ورځ ئې بادار ورته وویل چی: ولاړ شه پسه حلال کړه او دهغه ډېره ښه حصه راته راوړه.

لقمان حکیم، پسه حلال کړی دهغه زړه او ژبه ئې و بادار ته کښېښووه.

بله ورځ ئې بیا ورته وویل چی: ولاړ شه پسه حلال کړه، او دهغه ډېره بده حصه راته راوړه.

لقمان حکیم، پسه حلال کړی او پدغه پلا ئې بیا د پسه زړه او ژبه ورته وړاندی کړه.

بادار ئې ورته وویل: چی دا څه کیف دی؟

لقمان حکیم ورته وویل: په هغه صورت چی پاك وی تر زړه او ژبی بل ښه شی نه شته او که چیرته ناپاك وی نو تر زړه او ژبی بیا بدتره شی نه شته.

خوب او بیداری

سلطان سلیمان عثمانی پاچا کله چی د بلګراډ د ښار نیولو په عزم رهی ؤ یوه بوډۍ ښځه ورته درېدلی ویی ویل: کله چی زه بیده وم د پاچا نوکران راغلی، زما غوا او پسه چی دغه می ټوله هستی وه بېدلی دی.

پاچا ورته ومسل او ویی ویل: معلومیږی چی په ډېر درانه خوب بیده وې چی دغلو کرښ پل دی هم نه دی اروېدلی؟

بوډۍ ورته وویل: هو! زه پدې ګمان چی په ملک کی مو پاچا بیدار دی؛ نو په خواږه خوب بیده وم.

پدې خبره پاچا خوښ سوی، ا.د بوډۍ ټول تاوان ئې ورکړی او هم ئې له ځانه راضی کړه.

✡✡✡

غل او سکندر

یو دریائی غل ئې د «سکندر» حضورته درولی او هغه ورته وویل: آیا له دې څخه چی «غل» ئې خجالت نه باسی؟

غله په جواب کی ورته وویل: حق لرې ځکه اوس چی زه یوه کښتۍ لرم غل یم. لېکن که می زیاتی کښتۍ درلودلای نو «فاتح» کېدلم.

✡✡✡

سوسیالېزم، کمونېزم، فاشېزم

له «ګواسترګو» څخه پوښتنه وشوه چی دغه درې مسلکونه څه فرق سره لری؟

جواب ئې ورکړ: فرض به کړو چی موږ څلور غواوی لرو، سوسیالېزم له هغو څخه دوې غواوی د جامعی د پاره له موږ څخه اخلی او دوې ئې راپرېږدی.

کمونېزم څلور سره غواوی راڅخه بیایی او کوم کار چی موږ کوو د هغه اجوره راکوی.

فاشېزم څلور سره غواوی زموږ په اختیار کی پرېږدی. لېکن دوی ئې پخپله لوشی او شیدې ئې هم وړی.

✡✡✡

ډاکتری

رنځور: ډاکتر صاحب! بدن می ټوکر، ټوکر او ډېر درد هم کوی. یوښه دواء راکړه چی علاج می په وشی.

ډاکتر: وبخښه ورو ره، زه د طب ډاکتر نه یم بلکی زه د حقوقو ډاکتر یم.

رنځور: نوښه، ستا دی په خدای [ج] قسم وی که به زما غصب سوی حقوق نه را اخلی!.

✡✡✡

للو، للو

یو ډاکتر د شپی پر دروبجو د تیلفون زنګ له خوبه ویښ کړی او وختی چی ګوشکه ئې پورته کړه معلومه شوه چی یوې ښځی تیلفون ورته راوهلی دی.

ډاکتر: بلی څوک یاست او څه شکایت لری؟

ښځه: زه د پلانکی نمره کوره څخه خبری کوم او شکایت می دادی چی بی خوبه شوې یعنی خوب نه راځی.

ډاکتر: ښه، لطفاً د تیلفون ګوشکه په غوږ کی ونیسه چی «للو، للو» درته ووایم.

ښاغلی بېنوا

نوی ننداره

دا د طبیعت قانون دی چی هر زوړ خپل ځای «نوی» ته پرېږدی؛ زاړه به ځی او نوی به راځی.

بڼوال د بڼ زړې ونی باسی پر ځای ئې نوی نهالونه کښېنوی.

خزان د ونو زړې پاڼی رژوی او پسرلی د هغو پر ځای نوی تازه پاڼی شنی کوی.

د زړو کلاؤ زاړه د ېوالونه نړېږی او پر ځای ئې نوی عصری کوټی ودانیږی.

همدا راز د زړو فکرونو زړو رواجونو ځای نوی فکرونه او نوی رواجونه نیسی.

هو! د همدې طبیعی قانون په اغیزه په ټولو کائناتو کی تل یو ډول تحول لیده کیږی، کله پر لویو تورو غرونو د ژمی د سپینو واورو د جمو د څادر غوړېدلی وی؛ او کله ئې بیا په پسرلی کی د ونو تاج پر سر او لمنه ئې له رنګا رنګ ګلونو څخه ډکه وی.

کله د دنیا پر یو ګوټ تیاره او پر بل رڼا وی؛ او کله بیا په تیارې پسی ځی او یا د تیارې پای رڼاوی.

یو ګړی د غم ساندی اروېدلی کیږی او بل ګړی بیا د سرور او خوښی سندری یو وخت آسمان په تورو اوریځو پټ وی؛ او بل وخت ئې بیا مخ د هینداری په شان روڼ ښکاری.

یو زمان سمندرونه طوفانی وی؛ تر خولی د مستۍ ځګونه باسی، خو بل زمان بیا د آراموماشومانو په څېر د سواحلو په لمنو کی آرام غځېدلی پراته وی.

دا ټول ثابتوی چی:

[تحول او بدلون د طبیعت د اقتضائی قانون اساس دی!] ځکه نو لازمی ده چی د زاړه ژوند زړې نغمی خاموش کړه سی او د نوی ژوندون نوی سندری وږغولی سی.

همدا راز نو د نوی ژوند په صحنه کی باید زړه ننداره ختمه سی او د هغی پر ځای نندارچیانو ته د نوی ژوند د رمزونو نوی ننداره وښوولهسی.

هو! نورنو موږ ته نه ښائی چی د خپل نوی ژوند په نوی صحنه کی زړې ننداري وګورو.

دا د طبیعت د اقتضائی قانون مخالفت دی او د طبیعت د قانون مخالفت کول د ځان محوه کول دی.

موږ باید د طبیعی قانون سره سم ځانونه وخوځوو او ځانته د نوی ژوند د نندارتون ور پرانېزو داسی ونه سی چی د نوی ژوند نندارتون پرانستل شی او موږ لا په همهغه زړو نندارو بوخت پاته سو.

راځی!

نوی ننداره زموږ په انتظار کی ده.

KANDAHAR
MONTHLY MAGAZINE
OFFICE:-
PRESS DEPARTMENT
KANDAHAR, AFGHANISTAN
EDITOR: ZALMAI 'BARAK'
(APRIL) 1968
GOVERNMENT PRESS

مؤسس: محمدولی [زلمی]
د امتیاز خاوند: د طلوع افغان نشراتی مؤسسه
مسئول مدیر: زلمی (بارک)

کندهار
میاشتنی خپرونه
تاریخی، اجتماعی، علمی، ادبی
اداره: د شهیدانو واټ
د تاسیس کال ۱۳۳۹
د ۹ کال لومړی ګڼه
پر له پسی ګڼه ۹۱

کالنی بیه
په کندهار کی [۲۸] افغانی
دهیواد په داخل کی [۳۲]
په دباندنیو هیوادو کی یوډالر

د کندهار دولتی مطبعه